# THE STATE EDUCATION DEPARTMENT / THE UNIVERSITY OF THE STATE OF NEW YORK / ALBANY, NY 12234

Office of Bilingual Education and World Languages

55 Hanson Place, Room 594
Brooklyn, New York 11217
Tel: 718-722-2445 Fax: 718-722-2459

89 Washington Avenue, Room 528EB
Albany, New York 12234
Tel: 518-474-8775 Fax: 518-474-7948

## د والدینو د حقونو لایحه
## د نیویارک ایالت د انګلیسي ژبې د زده کوونکو لپاره

د نیویارک ایالت د پوهنې د څانګې The New York State Education Department (NYSED) د کمېشنرۍ د مقرراتو 154مه برخه تاسي – د انګیسي ژبې د زده کوونکو(ELLs) English Language Learners والدین/سرپرستان – ته لاندې موارد چمتو کوي:

1. پرته له دې چې ستاسي د ماشوم د مهاجرت حالت (مثلا دا چې آیا ستاسي د کورنۍ غړي تابعیت لري، یا مهاجر دي او یا اسناد نه لري) او د خبرو کولو ژبه یې په پام کې ونیول شي، ستاسي د اوسېدنې په محلي تعلیمي حوزه کي ستاسي ماشوم ته د وړیا دولتي زده کړې د ترلاسه کولو حق.

2. پرته له دې چې ستاسي څخه خپل یا ستاسي د ماشوم د مهاجرت د حالت په هکله معلومات یا کاري پاڼه وغوښتل شي، په ښوونځي کي ستاسي د ماشوم د شاملولو حق. څوک حق نه لري چې له تاسي څخه د ټولنیز امنیت کارت یا نمبر، د مهاجرت ویزه یا د ویزې حالت، یا د استوګني اسناد او د اسنادو حالت وغواړي.

3. د فدرالي قانون له مخې، د ښوونځي له حوزې سره د مهمو خبرو اترو او تعاملاتو په وخت کي ستاسي د ژبې یوه مسلکي ژباړن/ترجمان ته د لاسرسي حق.

4. کله چې ستاسي په مورنۍ/لومړنۍ ژبه 20 یا ډېر زده کوونکي خبرې کوي، د دوه ژبنیزو زده کړو Bilingual Education (BE) په پروګرام کي ستاسي د ماشومانو د ونډې حق.[1]

5. کله چې ستاسي ماشوم د انګلیسي ژبې د زده کوونکي په توګه وپېژندل شي او هغه دوه ژبنیزو زده کړوBilingual Education یا 'انګلیسي د نوې ژبې په توګه' English as a New Language (چې پخوا به 'انګلیسي د دویمې ژبې په توګه' ورته ویل کېدل) پروګرام ته معرفي شي، نو تاسي دا حق لرئ چې په دې اړه په خپله او انګلیسي ژبه د خبروني یو مکتوب ترلاسه کړئ. [2]

6. تاسي حق لرئ چې د ښوونځي له حوزې څخه مو په ښه کیفیت د لارښووني یوه برنامه ترلاسه کړئ چې د پروګرام د موخو او د دوې ژبنۍ زده کړې او 'انګلیسي د نوې ژبې په توګه' د پروګرام پر غوښتنو سربېره، پر ایالتي معیارونو، آزموینو او د انګلیسي ژبې له زده کوونکو څخه پر تمو تمرکز کوي. دا لارښوونه باید د ښوونځي د نهایي پروګرام له جوړېدو مخکي ترسره شي، او باید ستاسي د خوښې په ژبه کي وي.

7. تاسي حق لرئ چې د خپل ماشوم د انګلیسي ژبې د زده کړې د پرمختګ په هکله معلومات ترلاسه کړئ، او که چېرې هغه د دوه ژبنۍ زده کړې په پروګرام کي ونډه لري، حق لرئ چې د ماشوم په خپله ژبه کي هم د هغه د پرمختګ په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

8. سربېره پر نورو عمومي او اړینو غونډو، تاسو حق لرئ چې په کال کي حد اقل یو ځل د ښوونځي له کارکوونکو سره غونډه ولرئ او د خپل ماشوم د هر اړخیزې زده کړې او د هغه د ژبې د پراختیا په هکله بحث وکړئ.

9. ستاسي ماشوم حق لري چې د ثبت په 10 لومړیو ورځو کي په دوه ژبنۍ زده کړه یا 'انګلیسي د نوې ژبې په توګه' په پروګرام کي ونډه واخلي او یا له دوه ژبنۍ زده کړې څخه ووځي. ستاسي ماشومان باید حد اقل د 'انګلیسي د نوې ژبې په توګه' د پروګرام په هکله لارښوونه ترلاسه کړي.

10. که چېرې ستاسي د ماشوم اصلي ښوونځی نه شي کولای چي دا پروګرامونه دیر کړي، نو هغه حق لري چې په خپله ناحیه کي بل داسي ښوونځي ته ځان تبدیل کړي چې ستاسي په ژبه کي د دوه ژبنۍ زده کړې پروګرام وړاندې کوي.

11. ستاسي ماشوم حق لري چې د خپل عمر، د زده کړې د کچې او د فراغت د اړتیاوو سره سم، ټولو هغو پروګرامونو او خدماتو ته مساوي لاسرسی ولري چې د ښوونځي د حوزې له خوا وړاندې کېږي او نور زده کوونکي ورته لاسرسی لري.

12. ستاسي ماشوم حق لري چې د نورو ماشومانو د اکاډميکي کچې ته ورته د ټولو اساسي مضامينو په هکله لارښووني ترلاسه کړي او انګليسي ژبه او نور مضمونونه لکه لوستل/د ژبې هنرونه Reading/Language Arts، رياضي، ساينس، او ټولنيزې زده کړې زده کړي. د انګليسي ژبې په زده کړه کې شموليت ستاسي ماشوم د اساسي مضامينو د لارښوونو له لاسته راوړلو څخه نه محروموي.

13. ستاسي ماشوم حق لري له نصاب څخه د باندې فعاليتونو ته لاسرسی ولري (له ښوونځي څخه وروسته کلبونه، سپورټي فعاليتونه او نور). د انګليسي ژبې په زده کړه کې شموليت ستاسي ماشوم له نصاب څخه د باندې فعاليتونو کې له ونډې اخيستنې څخه نه محروموي.

14. ستاسي ماشوم حق لري چې د همکاريو د هغه پلان مطابق د ملاتړ خدمات (لکه د اکاډميکي همکارۍ خدمات) ترلاسه کړي چې ټولو زده کوونکو ته د ښوونځي/حوزې له خوا چمتو کېږي.

15. ستاسي ماشوم حق لري چې په کلني دول يي آزموينه وشي ترڅو د انګليسي ژبې د زده کړې په برخه کې يي پرمختګ و ارزول شي، او تاسي حق لرئ چې په شمول د نيويارک د ايالتي آزموينو، په نورو ښوونيزو آزموينو کې د خپل ماشوم د عملکرد په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

16. تاسي حق لرئ چې تر هغه مو ماشوم کال په کال په دوه ژبنيو زده کړو او د 'انګليسي د نوې ژبې په توګه' په پروګرام کې شامل کړئ چې د انګليسي ژبې د زده کوونکي په توګه پېژندل کېږي.

17. تاسي حق لرئ چې د پورتنيو حقونو د پايمالېدو په صورت کې د نيويارک ايالت د پوهنې د څانګې د دوه ژبنيو زده کړو او نړيوالو ژبو له دفتر (Office of Bilingual Education and World Languages) سره اړيکه ونيسئ.

مهرباني وکړئ د **1-800-469-8224** شمېرې له لارې **د انګليسي ژبې د زده کوونکو لپاره د اړيکې د لارښووني له خط** سره په تماس کې شئ، يا nysparenthotline@nyu.edu ته ايميل وکړئ.

د نورو معلوماتو لپاره **www.p12.nysed.gov/biling** ته لاړ شئ او يا لاندې پتې ته ليک وليکئ:

New York State Education Department
Office of Bilingual Education & World Languages
55 Hanson Place, Room 594
Brooklyn, New York 11217

[1] په نيويارک ښار کې، د Aspira د رضايت د فرمان له مخې، که چېرې په دوو پر له پسې ټولګيو کې 15 يا ډېر زده کوونکي په عين ژبه خبرې کوي نو په K-8 ټولګيو کې دوه ژبنۍ زده کړه اړينه ده. که چېرې په ښوونځي کې دا کافي اندازې زده کوونکوي نه وي موجود، لاکن په ټوله حوزه کې موجود وي، نو حوزه بايد د ژوه ژبنۍ زده کړې پروګرام چمتو کړي.

[2] د انګليسي ژبې ټول زده کوونکي د 'انګليسي د نوې ژبې په توګه' پروګرام له لارې خپل د انګليسي ژبې مهارتونو ته پراختيا ورکوي. سربېره پر دې، د دوه ژبنۍ زده کړې د پروګرام زده کوونکي د اصلي ژبې هنر په پروګرام کې هم ونډه اخلي. د اساسي مضامينو کورسونه (لکه رياضي، ساينس او ټولنيزې زده کړې) د دوه ژبنۍ زده کړې په پروګرام کې هم په انګليسي او هم په اصلي ژبه وړاندې کېږي. هغه کسان چې د دوه ژبنۍ زده کړې په پروګرام کې ونډه نه لري، کولای شي چې په انګليسي ژبه د اساسي مضامينو کورسونه ترلاسه کړي.